
مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۹ د چنگاښ څلورمه | د ۲۰۲۰ د جون ۲۴مه | ۵۵۶مه ګڼه

## کتاب

۴ مخ

### ستونزه دې حل کړه




په دغه کتاب کې وړاندې شوي اصول او نظریات به ستاسې د پوهې او تجربې پر اساس ستاسې د کامیابۍ لامل شي. که چېرې دغه مېتودونه او تخنیکونه تاسې په خپل ژوند کې عملي او عادت وګرځوئ، نو په خپل ځان کې به مثبت بدلون احساس کړئ.

## کرنې ریاست: په کندوز کې روان کال د هندوانو حاصلات نږدې یو لک ټنو ته رسېږي



د کندز د کرنې او مالدارۍ ریاست وايي، چې روان کال د دغه ولایت د هندوانو حاصلات نږدې ۱۰۰ زره ټنو ته رسېږي.
د دغه ولایت د کرنې رییس عبدالهادي قرلق وايي، سږکال په دغه ولایت کې په نږدې درې زره او ۴۶۰ هکټاره ځمکه کې هندوانې کرل شوي، چې د تولید کچه یې څه باندې ۱۰۰ زره متریک ټنه اټکل شوې ده. د نوموړي د مالوماتو له مخې، تېر کال د کندز په درې زره او ۳۳۴ هکټاره ځمکه کې هندوانې کرل شوې وې او د ارزونې له مخې، له دغو کروندو څخه نږدې ۹۳ زره او ۳۵۲ ټنه هندوانې حاصلات اخیستل شوي وو.
د کندز د کرنې رییس دغه راز زیاته کړې چې سږکال د هندوانو د کرکیلي کچه نږدې ۱۲۶ هکټاره زیاته شوې او په همدې توګه به د اټکل له مخې، د هندوانو په حاصلاتو کې هم نږدې اووه زره ټنه زیاتوالی راشي.

## حکومت: بیش از ۵۸۰ دستگاه تنفس مصنوعی را برای مبارزه با ویروس کرونا از جرمنی خریداری کردیم



حکومت افغانستان می‌گوید، بیش از ۵۸۰ دستگاه تنفس مصنوعی را برای مبارزه با همه‌گیری ویروس کرونا از جرمنی خریده است.
دفتر معاونِ اول ریاست جمهوری افغانستان با نشر خبرنامۀ گفته است که انتظار می‌رود این دستگاه‌های تنفسِ مصنوعی سر از ۱۲ سرطان از طریق دهلیز هوایی به کابل انتقال داده شوند. اما در این خبرنامه در مورد بهای این دستگاه‌ها چیزی گفته نشده است.
در این خبرنامه آمده که در حال حاضر، ۲۲۵ دستگاهِ تنفسِ مصنوعی در دسترس شفاخانه‌های کشور قرار دارد و برعلاوه ۳۶ دستگاه تنفسی از سوی سازمان صحی جهان، ترکیه، ایران و چین هم به افغانستان کمک شده اند.
خبرنامه همچنان گزارش مبنی بر قاچاق دستگاه‌های تنفس مصنوعی به بیرون از کشور را بی‌اساس خوانده است. این در حالیست که پیش از این، خبرگزاری پژواک گزارش داد که به اساس اطلاعات، ۳۲ دستگاه تنفس مصنوعی به پاکستان قاچاق شده است.
معصومه جعفری معاون سخنگوی وزارت صحت عامه هم روز دوشنبه این گزارش را رد کرده بود. به اساس آمار رسمی در افغانستان از آغاز شیوع ویروس کرونا در ۵ ماه حوت سال گذشته بیش از ۲۹ هزار نفر به این ویروس مبتلا شده‌اند. اما گفته می‌شود که ارقام واقعی شاید به مراتب بیشتر باشد.

# مرموز بریدونه او د سولې د ناکامولو هڅې؛

## زلمی خلیلزاد: ثابته شوه چې ځینې کورنۍ او بهرنۍ کړۍ د سولې د ناکامولو په لټه کې دي



۳

د بولټن په کتاب کې د افغانستان په اړه امریکایي تصور
۲ مخ

تر اوسه ۴۰ ځله د حج مراسم نه دي تر سره شوي
۲ مخ

د افغانستان اوبه او د ګاونډیانو اندېښنې
۳ مخ

## ارغندیوال: د کرونا له کبله د افغانستان په ملي عوایدو کې ۲۰میلیارد افغانۍ کموالی راغلی

د مالیې سرپرست وزیر عبدالهادي ارغندیوال وايي، د کروناویروس له کبله په تېرو څو میاشتو کې د افغانستان په ملي عوایدو کې ۲۰میلیارد افغانۍ کموالی راغلی دی.
ارغندیوال ویلي چې لا هم د ګمرکونو عواید د یو شمېر اشخاصو جیبونو ته ځي، خو نوموړي په دې اړه ډېر جزیات نه دي ورکړي چې د ګمرک عواید څنګه او د کومو اشخاصو جیبونو ته ځي.
د مالیې سرپرست عبدالهادي ارغندیوال له امریکا غږ په ځانګړې مرکې کې زیاته کړې چې له دې وروسته مفسدین نه شي زغملی، خو ویې نه ویل چې مفسدین څوک دي او د هېچا نوم یې هم وانخیست. د مالیې وزارت سرپرست داسې مهال د افغانستان په ګمرکي عوایدو کې د کموالي خبر ورکوي چې افغانستان لا هم د مفسدو هېوادونو د نوملړ په سر کې ځای لري.
دغه راز یو شمېر بهرنیو هېوادونو او مرستندویو ادارو هم خبرداری ورکړی چې که افغان حکومت د اداري فساد پر وړاندې بېړني اقدامات ونه کړي، ښایي، د دوی مرستې به بندې شي، خو افغان حکومت بیا وايي، چې دوی د فساد پر ضد مبارزې ته ژمن دي او په دغه برخه کې یې اصلاحات هم راوستي دي.
دا په داسې حال کې ده چې څو میاشتې مخکې د امریکا متحدو ایالتونو د افغان مشرانو ترمنځ د سیاسي اختلافاتو له کبله وویل چې پر افغانستان به یو میلیارد ډالر مرسته کموي، خو لاهم د هغه پیسو برخلیک نه دی په ډاګه شوی.

## ټرمپ باوري و چې امریکا په افغانستان کې جګړه بایللې ده



۵ مخ

Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملګری کړئ



Aksos
کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

دریــځ

## د بولټن په کتاب کې د افغانستان په اړه امریکايي تصور

د امریکا د ولسمشر د ملي امنیت پخواني سلاکار جان بولټن په خپل تازه لانجمن کتاب کې د افغانستان په اړه د ټرمپ د ذهنیت یو روښانه تصویر وړاندې کړی دی. په کتاب کې راغلي چې ټرمپ ویلي، په افغانستان کې د امریکايي ځواکونو حضور وحشت دی چې پړه یې پر جورج بوش ده. نوموړي ویلي چې امریکا په افغانستان کې پوره ماتې خوړلې ده او باید له دې هېواده څخه ژر امریکايي ځواکونه و ایستل شي. ټرمپ ویلي چې د افغانستان په جګړه کې میلیونونه خلک وژل شوي، ټریلیونونه ډالر لګول شوي، خو دا جګړه نه ده ګټل شوې او که وګټل شي، بیا هم امریکا څه نه تر لاسه کوي. په کتاب کې دغه راز ویل شوي چې ټرمپ په افغانستان کې د داعش د فعالیتونو په اړه ویلي چې پرېږدئ روسیه دا ستونزه حل کړي.

د ټرمپ له خبرو په واضح ډول ښکاري چې هغه غواړي د افغانستان له ستونزې ځان خلاص کړي. که څه هم پنټاګون او نور بنسټونه منظمه هڅه کوي چې د ټرمپ د تصمیم پر وړاندې خنډونه جوړ کړي، خو داسې ښکاري چې د افغان جګړې په تړاو د امریکا عامه ذهنیت له ټرمپ سره مرسته کوي چې دا جګړه ختمه کړي او امریکايي ځواکونه له افغانستان څخه وباسي. وروستي بدلونونه هم همداسې دي چې امریکايي ځواکونه به افغانستان پرېږدي او آن د دې شونتیا هم شته چې امریکا یو مخ افغانستان پرېږدي او لکه چې ټرمپ وايي، سیمه ییز هېوادونه په افغانستان کې ښکېل کړي او هر څه دوی ته ور پرېږدي. د سیمې هېوادونه به د امریکا په نیابت لوبه مخ ته بیايي او په دې سره به هم امریکا د افغان جګړې له مسوولیت څخه خلاصه وي او هم به یې ځواکونه خوندي وي او پیسې به یې هم نه لګېږي. له همدې امله په افغانستان کې د یو اساسي بدلون شونتیا ډېره ده.

اوس چې امریکا ځي او باید ولاړه شي، موږ له خپل هېواد او خپلو خلکو سره څه کوو؟ له بده مرغه لا هم ځینې کسان د امریکا پاتې کېدو ته هیله‌من دي او هڅه کوي چې د سولې په تخریب سره د امریکا پاتې کېدو ته لاره هواره کړي. دوی باید درک کړي چې امریکايي ځواکونه وځي او د دوی خنډونه او هلې ځلې د امریکا پرېکړه نه شي بدلولی، نو باید نوره دا هڅه پرېږدي. امریکا به وځي، خو پکار ده چې موږ د بین الافغاني خبرو د پیل او بیا جوړجاړي لپاره ټول شته خنډونه له منځه یوسو او ژر په دې برخه کې پرمختګ وکړو. که موږ سولې ته ونه رسیږو او حالت همداسې دوام وکړي، نو افغانستان تر دې ناوړه حالت ته تللی شي. له همدې امله پکار ده چې ټول اړخونه د سولې لپاره هلې ځلې وکړي. حکومت باید نور د سولې پر وړاندې خنډونه جوړ نه کړي او د سولې پر وړاندې جوړې کړې سرې کرښې یې ور ټولې کړي. طالبان هم باید انعطاف وښيي. د ټرمپ دا ادعا چې امریکا ماتې خوړلې، باید دوی داسې مغروره نه کړي چې ستونزې جوړې کړي. پکار ده چې د افغانستان پر ژغورنې فکر او کار وشي او دا چانس ضایع نه شي.

# تر اوسه ۴۰ ځله د حج مراسم نه دي تر سره شوي

ژباړه: حمیدالله حمیدي

حج کول د اسلام پنځمه بناء ده او په ټولو هغو مسلمانانو حج فرض دی، چې وس او توان یې ولري. هر کال د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه میلیونونه مسلمانان سعودي عربستان ته ځي او هلته د حج مراسم تر سره کوي. د تاریخ په اوږدو کې تر اوسه څلوېښت ځله د حج مراسم نه دي تر سره شوي. سږ کال د کرونا ناروغۍ له خپرېدو سره سم د عمرې کولو مراسم وځنډېدل او سعودي عربستان هم د نورو هېوادونو په څېر دغه هېواد ته د بهرنیانو ورتلل بند کړل. اوس تازه د سعودي عربستان حکومت اعلان کړی چې د کرونا ناروغۍ د لا خپرېدو د مخنیوي په موخه له سعودي بهر مسلمانان سږ کال دغه هېواد ته د حج د مراسمو لپاره نه شي راتللی. دا چې د تاریخ په اوږدو کې تر اوسه پورې د کومو عواملو له کبله څلوېښت ځله د حج مراسم نه دي تر سره شوي، په دې لیکنه کې مو ورته کتنه کړې ده.

علماوو او تاریخ پوهانو تر ننه پورې د حج د مراسمو د نه تر سره کېدو ۴۰ موارد او لاملونه د تاریخ په پاڼو کې ثبت کړي دي چې بېلګې یې سیاسي ستونزې، طبیعي افتونه، لا علاجه ناروغۍ، اقتصادي ځوړ، نا امنۍ، په لارو کې غلاوې او داسې نورې په ګوته شوي دي. یادو مسایلو ته په کتو د تاریخ په اوږدو کې د حج د مراسمو د بندښت او یا نه تر سره کېدو ۴۰ لاملونه او موارد په لاندې توګه تر بحث لاندې نیسو.

**په ۸۶۵ مېلادي کال په عرفات کې د حاجیانو عامه وژنه**

۲۵۱ هجري کال د حج د مراسمو د بندېدو یوه بېلګه ده چې په دغه کال په عرفات کې د حاجیانو ټول وژنه رامنځ ته شوه، داسې چې اسماعیل بن یوسف علوي او د هغه کسانو پر حاجیانو حمله وکړه او زیات شمېر حاجیان یې ووژل.

**په ۹۳۰ مېلادي کال کې قرامطه ډلې حجرالاسود غلا کړ**

په ۳۱۷ هجري کال قرامطه ډلې په یوه نه بښل کېدونکي جنایت لاس پورې کړ، هغوی د مسجد الحرام د ننه ډېر حاجیان ووژل او حجرالاسود یې له ځانه سره یووړه چې تر ۲۲ راتلونکو کلونو یې د ځای په اړه هېچاته پته نه وه. قرامطه ډلې ګومان کاوه چې حجرالاسود د جاهلیت د دورې یوه ځرګندویه نښه او یو ډول بت پرستي ده، له همدې امله یې د ۳۱۷ هجري کال په یوم الترویه کې طاهر قرمطي چې د بحرین حاکم او د قرامطه رهبر و، پر مکه حمله وکړه، هغه مهال حاجیان پر زیارت کولو بوخت وو چې یادې ډلې حجرالاسود له خپله ځایه را و ایسته او د هجر په نوم سیمې «اوسنی قطیف» ته یې یوړه، له دې سربېره یې ډېرش زره حاجیان په شهادت ورسول، د حاجیانو د وژلو پر مهال به یې ویل چې زه له خدایه لوی یم، هغه انسانان پیدا کوي او زه یې وژنم. نوموړي له دې سربېره غوښتل چې مقام ابراهیم هم له ځانه سره یوسي خو د مکې خادمینو هغه په کوم ځای کې پټ تري ساتلی و.

له یادې پېښې وروسته په ۳۱۸ کال کې قرامطه ډلې چې حجرالاسود یې په قطیف کې په یو لوی کور کې ځای پر ځای کړی و، پر یو نوي بدعت لاس پورې کړ او ویې ویل چې له دې وروسته باید د حج مراسم په قطیف کې تر سره شي او د قطیف خلکو ته یې امر وکړ چې د یاد کور شاوخوا ته دې د حج مراسم تر سره کړي، خو د قطیف خلکو دغه خبره ونه منله او ډېری له هغوی څخه له همدې امله ووژل شول.

**۸۹۳ مېلادي کال د بني عباس او بني عبید خلافتونه**

ویل کېږي چې له ۳۷۲ هجري کال څخه تر ۳۸۰ هجري کاله پورې د مصر د خلفاوو هر یو بني عباس او بني عبید تر منځ د اختلافاتو له امله په یادو کلونو کې هېڅوک له عراق څخه د حج مراسمو ته ولاړل نه.

**۱۰۳۷ مېلادي کال او د حج له مراسمو څخه د عراق د خلکو محرومېدل**

په ۴۲۸ هجري کال کې هېڅوک له عراق څخه د حج د مراسمو لپاره ولاړل نه، خو د نورو هېوادونو مسلمانانو د حج مراسم تر سره کړل.

په ۱۲۵۳ کال کې له ۱۰ کلونو وروسته د حج مراسمو ته د عراق د خلکو را ګرځېدل

په ۶۵۰ هجري کال کې د بغداد مسلمانان چې ۱۰ کاله د حج مراسمو ته نه وو تللي، د خلیفه المستنصر له مړینې وروسته یو ځل بیا حج ته لاړل.

**په ۱۲۵۷ مېلادي کال کې له حجاز څخه هېڅوک د حج مراسمو ته ولاړل نه**

په ۶۵۵ هجري کال کې له حجاز څخه هېڅوک د حج مراسمو ته ولاړل نه او د هېڅ یو پادشاه بیرغ په مکه کې ونه رپېد.

**۱۸۱۴ کال او د طاعون ناروغۍ خپرېدل**

په دغه کال په حجاز کې شاوخوا ۸ زره کسان د یادې ناروغۍ له امله مړه شول.

**۱۸۳۱ کال او د هندي وبا د خپرېدو له امله د درېیمې برخې حاجیانو مړینه**

په دغه مېلادي کال کې چې له ۱۲۴۶ هجري کال سره سمون لري، یو ډول وباء «نا علاجه ناروغي» چې د ډېرو په خبره له هند څخه یې سرچینه درلوده، د حج په مراسمو کې خپره شوه او له امله یې شاوخوا درېیمه برخه حاجیان مړه شول.

**۱۸۳۷ مېلادي کال او د وبا یا لا علاجه ناروغۍ خپرېدل**

د دغه کال د حج په مراسمو کې د وبا ناروغي یا افت خپور شو او تر ۱۸۴۰ کاله یې دوام وکړ.

**۱۸۴۶ کال او تر څو راتلونکو کلونو پورې د کولرا ناروغۍ خپرېدل**

په دغه کال کې د کولرا ناعالجه ناروغي د حاجیانو تر منځ خپره شوه او تر ۱۸۵۰ کاله یې دوام وکړ چې له هغه وروسته په ۱۸۶۵ او ۱۸۸۳ کلونو کې یو ځل بیا را څرګنده شوه.

**۱۸۵۸ مېلادي کال او له حجاز څخه مصر ته د خلکو تېښته**

په دغه کال کې د یوې ناعلاجه وبا یا ناروغۍ خپرېدل د دې لامل شول څو خلک له حجاز څخه مصر ته تېښته وکړي، مصر هم هغه مهال په بئر عنبر سیمه کې د قرنطین په خاطر یو ځانګړی ځای وټاکه څو د یادې ناروغۍ له خپرېدو مخه ونیسي.

**۱۸۶۴ کال او هره ورځ د زر تنه حاجیانو مړینه**

په دغه کال کې هره ورځ زر تنه حاجیان د یوې خطرناکې او ناعلاجه وبا یا ناروغۍ له امله مړه کېدل او په ۱۸۷۱ کال کې هم یاده وبا په مدینه منوره کې خپره شوه، تر دې چې مصر اړ شو او مدینې منورې ته یې ډاکټران ولېږدول، هغوی په مکه او د مکې-مدینې په لاره کې یې د قرنطین لپاره ځانګړي روغتیايي مرکزونه جوړ کړل.

**۱۸۹۲ کال او د مړیو بې شمېره جنازې**

په دغه کال کې د حج په مراسمو کې د کولرا نا علاجه وبا یا ناروغي خپره شوه، تر دې چې د مړیو جنازې یو د بل د پاسه ولوېدې او د دفن لپاره یې هېڅ فرصت او امکانات نه وو، همدارنګه په عرفات کې هم ډېر کسان مړه شول او دغه مهال په منا کې د مړینې کچه اوج ته رسېدلې وه.

**۱۸۹۵ مېلادي کال او د ټیفویېډ خپرېدل**

په دغه کال کې ټیفویېډ تبې ته ورته یوه وبا یا ناروغي خپره شوه چې د یادې ناروغۍ سرچینه هغه قافله وه چې له مدینې منورې څخه راغلې وه، همدارنګه په عرفات کې هم ځینې کسان د یادې ناروغۍ له امله ناروغان شول، خو له هغه وروسته یاده ناروغي له منځه لاړه او په منا کې یې نښې څرګندې نه شوې.

**۱۹۸۷ مېلادي کال او د منژیت «ملنجیت» د ناروغۍ خپرېدل**

په دغه کال کې د منژیت د خطرناکې ناروغۍ د خپرېدو له امله چې په ډېره چټکتیا سره خپرېدله، شاوخوا ۱۰ زره حاجیان پر یاده ناروغۍ اخته شول.

**د حج د مراسمو په ورځو کې د ناروغیو د خپرېدو د مخنیوي لپاره ترسره شوې هڅې**

ناعلاجه ناروغۍ او وباوې د مکې او مسجد الحرام په تاریخ کې ډېرې رامنځ ته شوې دي او د مکې تاریخ ډېرې ناعلاجه ناروغۍ د ګڼې ګوڼې د زیاتوالي او د ډېرو هېوادونو د حاجیانو د شمېر د زیاتېدو له امله په ثبت رسولې دي. د حج په مراسمو کې د تنفسي ناروغیو د لېږد امکان ډېر وي او دغه ناروغۍ کولای شي د تنفسي دستګاه د ترشحاتو له لارې ولېږدول شي، لکه د انفلوانزا، منژیت، اوسنۍ کرونا وبا او داسې نورې...

**له قرنطین او روغتیايي خدمتونو څخه د قبایلو مخنیوی**

په ۱۸۱۲ مېلادي کال کې عثماني مسوولینو د اروپايي هېوادونو په ملاتړ سره هڅه وکړه څو د حج په مراسمو کې د ناعلاجه ناروغیو د مخنیوي او مبارزې په خاطر یو قرنطینه مرکز او روغتون جوړ کړي، ځکه هغه اروپايي هېوادونه چې مسلمان وګړي یې د حج مراسمو ته تلل، اندېښمن وو چې د بېرته راتلو پر مهال یادې ناروغۍ له ځانه سره را نه وړي. خو دغه کار د هغه قبایلو له سخت مخالفت سره مخ شو چې د حاجیانو مالونه او بارونه به یې د خپلو اوښانو په واسطه لېږدول، دا چې د یادو قبایلو تجارت او عایداتو ته زیان رسېده، نو همغه وو چې پر روغتون او قرنطینه مرکزونو یې حمله وکړه او ډېر هغه اروپايي ډیپلوماټان او ډاکټران چې په دې مرکزونو کې یې مرستې وړاندې کولې، ووژل او یا یې ټپیان کړل.

**د ذبح د قوانینو د نه رعیات کولو ستونزه**

په ۱۸۸۶ کال کې د حج په مراسمو کې یو قانون وضعه شو چې له مخې یې د ذبح او د مالونو د توضیع لپاره ځایونه مشخص شول، همدارنګه د حاجیانو لپاره هغه ځایونه هم په ګوته شول چې د ذبح او قربانۍ پاتې شوني پکې واچوي، دا ځکه چې قرباني او ذبح د حج په مراسمو کې د ناروغیو د لېږد یوه اصلي لاره وه، خو له بده مرغه چې دغه تدابیر او لارښووني جدي ونه نیول شوې او د ډېرو لخوا عملي نه شوې، له همدې امله د کولرا په څېر وژونکې ناروغۍ هر درې کاله وروسته د حاجیانو تر منځ خپرېده او له نیمو څخه زیات حاجیان یې د مرګ له خطر سره مخ کول، له دې سربېره به یادې ناروغۍ د حاجیانو تر خپلو سیمو او ګڼو عربي جزیرو پورې لېږدول کېدې.

**ډولتشین: د ناروغیو خپرېدل په عرفات کې پیل کېږي**

عبدالعزیز ډولشتین روسي مسلمان او نظامي سیلاني چې په ۱۸۹۸ او ۱۸۹۹ کلونو کې یې حجاز ته سفر وکړ، نوموړي د حج په نوم په خپل یوه کتاب کې ولیکل چې د ناعلاجه ناروغیو خپرېدل معمولاً له عرفات څخه پیل کېږي او په منا کې شدت پیدا کوي، که چېرې په عرفات کې د ورته ناروغیو شاهدان ونه اوسو، دا په دې مانا ده چې په هغه کلونو کې به هېڅ ناعلاجه وبا یا ناروغي د حاجیانو تر منځ نه خپرېږي. نوموړی وايي چې په مکه او مدینه کې د ۳۰ زرو کسانو په ځایولو سره روغتیايي قرنطینه مرکزونه او روغتونونه وو چې سیار روغتیايي قرنطینه مرکزونه له حاجیانو سره یو ځای عرفات ته او وروسته منا ته لېږدول کېدل، په دغو روغتیايي مرکزونو کې د مکې په څېر اړین طبي روغتیايي خدمتونه په وړیا ډول وړاندې کېدل، خو له دې سربېره دغه روغتیايي مرکزونه د حاجیانو په منځ کې د ناروغیو د خپرېدو پر مهال په بشپړه توګه ناتوانه او د خدمتونو له وړاندې کولو عاجز پاتې شول.

**د قبایلو په واسطه د بخار خونو تخریب**

د هغه څه اړوند چې ډولشتین په خپل کتاب کې ویلي دي، قبایل د ناروغیو پر وړاندې له بېړنیو او مخنیوونکو کړنو سره مخالف وو، له همدې امله یې پر هغه بخار خونو حمله وکړه چې له منا څخه د راګرځېدونکو حاجیانو جامې او لباسونه به یې مینځل او وچول، ځکه هغوی له هرې هغه کړنې او فعالیت سره مخالفت کاوه چې د هغوی پر تجارت او عایداتو به یې منفي اغېزه کوله.

# د افغانستان اوبه او د ګاونډیانو اندېښني

لیکنه: عبدالرشید نایل

**ځلورمه برخه:**

لومړی: په رسنیزه او سیاسي کچه، ایران ادعا لري چې افغانستان دغه هېواد ته د ۱۹۷۳ کال په تړون کې له مشخص شوي حق سره سم، اوبه نه ورپرېږدي؛ او له همدې کبله وخت ناوخت پر افغانستان فشارونه واردوي. ایراني چارواکي وايي، په افغانستان کې د ډېرو بندونو جوړول او د اوبو مسیر بدلول د دې لامل شوي، چې سیستان ته اوبه ونه رسېږي، کوم څه چې د هامون د وچېدو لامل شوي او په دغه هېواد کې یې اقتصادي او چاپېریالي ستونزي راټوکولې دي؛ خو افغان لوری بیا دا ادعا نه مني او وايي، ایران ته د هلمند سیند د اوبو په ورتګ هېڅ خنډ نشته او افغانستان د اوږدو جګړو له کبله نه دی توانېدلی د دغه سیند له اوبو سمه ګټه واخلي. د افغان چارواکو په وینا، افغانستان د دغه تړون له لاسلیک کولو وروسته تراوسه هېڅ داسي بند نه دی جوړ کړی، چې ایران ته د هلمند د اوبو په ورتګ کې کموالی راولي. افغان لوری وايي، د اوبو کچه له کجکي بند سره نژدې د دهراوود اوبو پېژندنې د دستګاه په وسیله معلومېږي او نورمال او غیرنورمال کلونه تشخیصېږي او ایران هر کال په تړون کې مشخصې شوې اوبه ترلاسه کوي. افغان چارواکي د اوبو د دقیقې کچې له وړاندې کولو پرته ادعا لري، چې ایران په تېرو ځلور نیمو لسیزو کې په افغانستان کې د ګډوډیو او د اوبو د نه مدیریت له کبله، په تړون کې تر مشخصې شوې کچې څو چنده زیاتې اوبه ترلاسه کړې دي. په دې تړاو د ځینو راپورونو له مخې، ایران ته په کلني ډول لږترلږه ۱۸۰۰ ملیون متره مکعب اوبه ورکړل شوي دي. حتی رویټرز د ۲۰۱۸ کال په جولای کې د یوه اړوند افغان چارواکي له خولې لیکلي، چې په افغانستان کې له وچکالۍ سره سره، په تېر یوه کال کې ایران د هلمند له اوبو درې ملیارد متر مکعب اوبه ترلاسه کړې دي.

دویم: په بل اړخ کې څېړنې بیا ښيي، چې ایران ته د ورتلونکو اوبو کچه نه اندازه کېږي او د هغو اوبو د کچې معلومولو لپاره، چې له هلمند سیند څخه ایران ته بهېږي، دا مهال کوم سیستم او د موادو راټولو بهیر نشته دی؛ ځکه په ۱۹۷۰ کلونو کې د امریکا د حکومت له لوري جوړ شوی سیستم د پخواني شوروي د اشغال پر مهال ویجاړ شو. د څېړنیزو موادو له مخې، د هلمند سیند د اوبو اندازه کولو سیستم د ۱۹٤۰مې لسیزې په منځ کلونو کې جوړ شو او د ۱۹۷۰ لسیزې تر وروستیو پورې د اوبو اندازه کولو د سایټونو شمېر هم په زیاتېدو و. تر ۱۹۷۸ کال پورې کابو ۱٦۰ ځایه د اوبو د اندازه کولو شبکه موجوده وه؛ خو په ۱۹۷۹ کال کې پر افغانستان د شوروي اتحاد له یرغل وروسته د دغو اوبو د اندازه کولو بهیر ودرېد او د ۱۹۸۰ کال له سپټمبر راوروسته یې په اړه مواد او معلومات نه دي راټول شوي. یو ځل په ۲۰۰۵ کال کې درې مخکښې سټېشنونه ورغول شول او وروسته هم تر یوه بریده کار پرې وشو؛ خو بیا هم د اوبو د جریان او کچې په اړه دقیق معلومات نه دي راټول شوي او د تېرو نژدې ځلورو لسیزو مواد نشته دي. که څه هم تر ۲۰۱٤ کال پورې د اوبو اندازه کولو څو نورې دستګاوې هم ورغول شوې، خو د ناامنیو له کبله د موادو راټولولو تر کچې ونه رسېدې. په ځانګړې توګه له ایران سره پر پوله دوه سټېشنونه فعال شول؛ خو دا بیا له ایران سره همغږې شوې نه دي او له لارې یې د راټولو شوو موادو په اړه هم معلومات نشته دي. له ۱۹۸۰ کال وړاندې مواد ښيي، چې ایران په تړون کې له مشخص شوې کچې زیاتې اوبه ترلاسه کړې او له همدې کبله ویل کېږي، چې په ۱۹۸٤ کال افغان حکومت یو څېړنیز راپور ایراني لوري ته سپارلی، چې له مخې یې له تړون څخه د ایران سرغړونې په نښه شوې او ښيي، چې ایران ته هر کال په اوسط ډول په هره ثانیه کې ٦۳ متر مکعب اوبه ورکړل شوې دي؛ خو له دغې نېټې وروسته کره مواد نشته او دواړه لوري د دغو اوبو د کچې په اړه داسې شمېرې وړاندې کوي، چې له یو بل سره خورا زیات توپیر لري.

په بل اړخ کې د ایراني څېړونکو ځینې څېړنې ښيي، چې له ۱۹٤۰ کال څخه تر ۲۰۱۲ کال پورې د وچکالیو له کبله د هلمند سیند په کلني جریان کې جدي بدلون نه دی راغلی. د بېلګې په توګه په ۱۹۸۳ تر ۲۰۱۲ موده کې چې وچکالي هم پکې زیاته وه، د دغه سیند د اوبو اوسط کلنی جریان ۵۸۵۸ ملیون مترمکعب و، حال دا چې نورمال کال په تړون کې ۵٦٦۱ ملیون متر مکعب ښودل شوی دی. په دې توګه افغانستان د وچکالۍ له کبله د اوبو د کمښت ادعا نه شي کولی. په ټولیز ډول دواړه لوري خپلې ادعاوې لري؛ خو موږ داسې کره معلومات ترلاسه نه شو کړای، چې وښيي له ۱۹۸۰ کال وروسته موده کې په کلني ډول ایران ته څومره اوبه ورکړل شوې دي او دا هغه ستونزه ده، چې له ایران سره د ګډو اوبو قضیه یې لا ډېره پېچلې کړې او جنجالي کړې ده.

**د ایران اندېښني**

**الف- په ایران کې د اوبو کمښت او د هامون وچېدل**

په ټوله کې ایران هم د وچکالۍ ځپلو هېوادونو په کتار کې دی او اوسنۍ وچکالي یې په تېرو ۵۰ کلونو کې مخینه نه لري. له افغانستان سره د اوبو په مسئله کې د ایران تر ټولو ستره اندېښنه د هامون د وچېدو له کبله په دغه هېواد کې راټوکېدونکې ستونزې دي. د هامون ستر ډنډ د ایران په سیستان او بلوچستان ولایت کې پروت دی او له دریو کوچنیو ډنډونو یا تالابونو جوړ دی (پوزک، سابوري او هلمند هامونونه). د هلمند سیند اوبه لومړی پوزک هامون ته تویېږي، چې د افغانستان او ایران ترمنځ ګډ دی او بیا په ترتیب سره د ایران-افغانستان پر پوله پراته سابوري او ورپسې د ایران په خاوره کې پراته هلمند هامون ته ځي. د اوبو د زیاتوالي پر مهال درې واړه سره یو ځای کېږي او د افغانستان او ایران ترمنځ د هامون ګډ تالاب جوړوي. د ډکېدو پر مهال ٥٦٦۰ کیلومتره مربع مساحت لري، چې ۳۸۲۰ یې د ایران اړوند او پاتې د افغانستان اړوند دی. په دې توګه افغانستان او ایران د هلمند او هریرود-مرغاب سیندونو ترځنګ، په سیستان حوزه (هامونونو) کې هم شریک دي. هامون ته ډېره برخه اوبه له هلمند سیند څخه ورځي، چې له کبله یې د وچکالۍ په کلونو کې تل د افغانستان او ایران د ګډو اوبو پر سر شخړې موجودې وې او اوس هم چې هامون د اوبو له کمښت سره مخ دی، ایران پر افغانستان د فشارونو واردولو هڅې کوي. هامون له ۱۹۹۰ کال راوروسته د اوبو د کمښت له بحران سره مخ شو، ان تر دې چې په ۲۰۰٤ کال کې یې سطحي اوبه تر ډېره ختمې شوې او دغه بحران نور هم جدي شو. په ټولیز ډول اوس‌مهال هم هامون ته د هلمند سیند اوبه ورځي او په ځینو برخو کې یې اوبه شته دي؛ خو ایرانی لوری یې په دغو اوبو کې له خپل حق څخه کمې ښيي.

**دوام لري...**

# مرموز بریدونه او د سولې د ناکامولو هڅې؛

## زلمی خلیلزاد: ثابته شوه چې ځینې کورنۍ او بهرنۍ کړۍ د سولې د ناکامولو په لټه کې دي



په دې وروستیو اونیو کې د مرموزو وژنو او بریدونو له زیاتېدو سره سم، د پټو کړیو د فعالیت په تړاو اندېښنې هم ډېرې شوې دي. تازه د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد په یوه ټوېټ کې ویلي چې ځینې کورنۍ او بهرنۍ کړۍ په افغانستان کې د سولې د ځنډ او یا ناکامۍ په لټه کې دي. نوموړي دا ښرګندونې په کابل کې د پنځو څارنوالانو تر وژل کېدو وروسته کړې دي. بلخوا ارګ بیا پر طالبانو غږ کړی چې له تاوتریخوالي لاس واخلي همدا راز پخواني ولسمشر حامد کرزي هم د مرموزو بریدونو په تړاو اندېښنه ښودلې ده.

پرون د کابل په ده سبز سیمه کې د لویې څارنوالۍ پر پنځو کارکوونکو برید وشو. په دې کسانو کې څارنوالان او د لویې څارنوالۍ هغه کارکوونکي شامل وو چې د سولې پروسې او زندانیانو د خلاصون په پروسه کې یې فعالیت کاوه. دوی د بګرام او نورو زندانونو ترمنځ تګ راتګ کاوه او د زندانیانو د خلاصون په پروسه کې یې ونډه لرله. پرون سهار هم پر خپل کار بوخت وو، چې د کابل په ده سبز ولسوالۍ کې ناپېژانده وسله وال برید ورباندې کوي او دغه کسان وژني. د برید مسوولیت هېڅ ډلې نه دی منلی، خو حکومت یې هم د عاملینو په نیولو نه دی بریالی شوی.

پر دغه پېښه ارګ، امریکا، پخواني ولسمشر حامد کرزي، ملګرو ملتونو او ګڼو نورو ملي او نړیوالو بنسټونو غبرګونونه ښودلي دي. د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد پر دغه پېښه خواشیني څرګنده کړې ده او په خبره یې په کور د ننه او بهر ځینې کړۍ فعالیت کوي چې هڅه کوي د سولې د ځنډ او یا خنډ سبب شي. د ده په خبره: ((متحده ایالتونه د افغانستان د لویې څارنوالۍ پر څارنوالانو او د دې ډلې پر نورو غړو، چې د بندیانو د خلاصون چارې یې تسهیلولې، ننی برید په کلکه غندي. دغه برید چې د سولې د دښمنانو له لوري تر سره شو، د پنځو ملکي وګړو ژوند یې واخیست)).

خلیلزاد د یادو څرګندونو تر څنګ له افغان حکومت غوښتي چې دغه پېښه دې په هر اړخیزه توګه وڅېړي او په دې توګه دې هغه کړۍ پیدا کړي چې د سولې د تخریب او ناکامېدو په لټه کې دي. د خلیلزاد په وینا: ((موږ د بشپړې پلټنې غوښتنه کوو چې عاملین ومونډل شي او عدالت ته وړاندې شي. دا برید هغه څه څرګندوي چې موږ ټول پرې پوهېږو، ورانکاري (کورني او بهرني) هڅه کوي چې بهیر زیانمن او وې ځنډوي)). خلیلزاد همدا راز د سولې په برخه کې پر ټولو فعالو بنسټونو او اشخاصو غږ کړی چې له کومې وېرې او اندېښنې پرته دې خپل ماموریت مخ ته وړي او په دې توګه دې په افغانستان کې اوږده جګړه پای ته ورسوي.

بلخوا ملګرو ملتونو هم دغه برید غندلی دی او له افغان حکومت یې غوښتي چې ژر تر ژره دې د برید عاملین د قانون منګولو ته وسپاري. په کابل کې د ملګرو ملتونو مرستندویه دفتر یا یوناما وايي چې د سولې په برخه کې پر فعالو څارنوالانو برید د اندېښنې وړ مسئله ده.

پخواني ولسمشر حامد کرزي هم پر دغه پېښه غبرګون ښودلی دی. نوموړي له افغان حکومت غوښتي څو د ټولو هغو هڅو او فعالیتونو مخه ونیسي چې د سولې د تخریب او ځنډ په موخه د مخربو کړیو له لوري ترسره کېږي. د حامد کرزي په وینا پر څارنوالانو هم د افغانستان د سولې او امنیت دښمنانو برید کړی دی چې د نه بښل کېدو وړ ستر بشري او انساني جنایت دی.

ولسمشر غني بیا اړوند مسوولینو ته دنده سپارلې چې دغه پېښه په هر اړخیزه توګه وڅېړي. نوموړي به خپره کړې اعلامیه یو ځل بیا پر طالبانو غږ کړی دی چې د سولې لپاره تیاری ونیسي او تاوتریخوالی کم کړي.

هېره دې نه وي چې په دې وروستیو کې یو لړ مرموز بریدونه پیل شوي چې تر ډېره دیني علما، قاضیان او د محاکمو کارکوونکي پکې په نښه کېږي، هېڅ ډله یې مسوولیت نه اخلي او حکومت هم په دې تړاو تر اوسه معلومات نه دي خپاره کړي. وروستي برید د امریکا غبرګون هم پارولی او د جدي پلټنې غوښتونکې ده.

# ماکرون: په لیبیا کې د ترکیې روان ګواښوونکی رول فرانسې ته د منلو نه دی



د فرانسې ولسمشر ایمانویل ماکرون وايي، په لیبیا کې د ترکیې روان خطرناک رول فرانسې ته د زغملو نه دی. د فرانسې ولسمشر دغه راز ترکیه تورنه کړې چې خپلې ژمنې نه عملي کوي او لیبیا ته وسلې انتقالوي.

ماکرون زیاته کړې: «ما ولسمشر (اردوغان) ته په ښکاره وویل چې زه باور لرم چې ترکیې په لیبیا کې یوه خطرناکه لوبه پیل کړې ده او تقریباً ټولې هغه ژمنې یې ماتې کړې دي چې د برلین په کنفرانس کې یې کړې وې.»

نوموړي په پاریس کې د تونس له ولسمشر قیس سعید سره په ګډ خبري کنفرانس کې دا خبرې کړې دي. دا په داسې حال کې ده چې ترکیه په طرابلس کې د لیبیا حکومت ته چې ملګري ملتونه یې ننګه کوي، وسلې استوي او د لیبیا د ملي یووالي حکومت د جنرال خلیفه حفتر سره په جګړې بوخت دی.

خو ماکرون ویلي چې ترکیې لیبیا ته د وسلو نه استولو په اړه د ملګرو ملتونو پرېکړه له پامه غورځولې ده. په همدې حال کې اروپایي ټولنې هم په لیبیا کې د نړیوالې مداخلې د درولو غوښتنه کړې ده.

ماکرون داسې مهال دا څرګندونې کوي چې دوې اونۍ مخکې د ترکیې او فرانسې پوځي بېړۍ د مدیترانې په ختیځ کې د یو او بل پر وړاندې ودرېدې چې دغه کار د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې ترینګلې کړې دي.

فرانسه تور لګوي چې د ترکیې بېړۍ د فرانسې په هغې بېړۍ د رادار د ځراغونو رڼا اچولې ده چې د ناټو په ماموریت بوخته وه چې معلومه کړي د فرانسې بېړۍ خو به لیبیا ته وسلې نه قاچاق کوي.

فرانسه وايي چې د ترکیې بېړیو رڼا غورځوونکو وسلو ته هم لاس ور وړی و، خو ترکیه دا تورونه ردوي.

د یادونې ده چې په ۲۰۱۱ز کالکې په لیبیا کې د یو پاڅون په ترڅ کې د معمر القذافي حکومت ړنګ او هغه ووژل شو. له هغه را وروسته په دغه هېواد کې کورنۍ جګړې پیل شوې دي. په دغه هېواد کې اوس‌مهال دوې ډلې حاکمې دي او له یو بل سره په جګړه اخته دي.

نړیوال د فایز السراج په مشرۍ د لیبیا «ملي یووالي حکومت» او حکومتي ځواکونو ننګه کوي او روسیه، مصر، اردن او متحده عرب امارات بیا د جنرال خلیفه حفتر سره ولاړ دي.


## د کتـــاب خبـرې

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل

### دویمه برخه

### یو کاروبار او اته شتمني جوړوونکې دارایۍ یوولسم څپرکی




۱۱. درېیمه دارایي: له هغو ملگرو سره یو ځایوالی چې له تاسو سره گډ ارزښتونه او موخې لري

ښایي د دې اوربدل ستونزمن درته ښکاره شي؛ خو که غواړې په ژوند کې بېل اقتصاد ولرې، نو د نوې دندې تر درلودلو نوي ملگري مهم دي. ولې؟ ځکه ستا اوسني ملگري که مینه هم درسره ولري او درسره په چل کې هم نه وي؛ خو تا ته یې گټه نه رسېږي او تا کمزوری کوي.

ښایي دا دې اورېدلي وي چې ستا گټه په منځني ډول ستا د پنځو نژدې ملگرو د گټې په اندازه ده. یانې ستا پنځه نژدې ملگري چې څومره گټي، ته هم هغومره گټې او ښایي دا دې هم اورېدلي وي چې مرغان هغه سره کېني چې بڼکې یې سره ورته وي. دا خبره د شتمنو، نېستمنو او متوسطو خلکو په اړه بلکل سمه ده. په بله وینا، شتمن له شتمنو، نېستمن له نېستمنو او متوسط خلک له متوسطو خلکو سره ناسته ولاړه لري.

زما شتمن پلار به ویل:«که غواړې شتمن شې، نو له شتمنو خلکو سره ناسته ولاړه کوه، یا له داسې خلکو سره ملگرتیا غوره کړه چې شتمن کولای دې شي.»

زیات خلک له داسې چا سره ناسته ولاړه یا ملگرتیا کوي چې له مالي اړخه دوی شا ته ټېله کوي. د شبکه یي بازارموندنې په تجارت کې به له داسې چا سره ملگری کېږې چې په شتمنېدو کې مرسته درسره کوي. له ځانه وپوښته:«له کومو خلکو سره چې وخت تېروم، ایا زما د شتمنېدو په لټه دي؟ او که زه سخت کار کوونکی یم، نو دوی لېوالتیا راسره لري؟»

په پنځلس کلنۍ کې پر دې پوه شوم چې مالي ازادي غواړم. د دې لپاره یوه ښه لار دا وه چې له داسې کسانو ملگری شم چې له ما سره په مالي ازادۍ کې مرسته وکړي. نو پرېکړه مې وکړه چې له داسې ملگرو سره یاري وکړم چې زما د شتمنېدو لېوالتیا ولري، نه داسې ملگري چې غواړي زه د یوه شتمن کس وفادار کارکوونکی واوسم.

دا مې ژوند بدلوونکې شېبه وه. په پنځلس کلنۍ کې داسې پرېکړه کول ساده کار نه و، ځکه ما باید ډېر احتیاط کړی وای چې له چا سره وخت تېروم او کومو لارښوونکو ته غوږ نیسم. که غواړې خپل تجارت ولرې، نو دې ته به پام کوې چې له چا سره وخت تېروم او کوم لارښوونکي ته غوږ نیسم. دا یوه حیاتي نکته ده.

یوازینې ستونزمن څه چې زه یې د زیروکس شرکت پرېښودلو ته مجبور کړم، له ځینو ملگرو څخه د ځان لرې کول وو. زیات ملگري او د کورنۍ غړي مې د E کونج اوسېدونکي یا په تنخوا کار کوونکي وو. د دوی ارزښتونو زما له هغو سره توپیر درلود. دوی د دندې ساتنې او میاشتنۍ تنخوا ته ارزښت ورکاوه او ما مالي ازادۍ او خپلواکۍ ته. دا ډېره دردوونکې پرېکړه وه؛ خو زما د پرمختگ په خاطر ډېره اړینه وه.

ښایي تاسو هم د بازارموندنې په شبکو کې له ورته تجربې سره مخ شئ. ملگري او کورنۍ ښایي له شبکه یي بازارموندنې سره ستا د یو ځای کېدو پرېکړه درک نه کړي یا ښایي ځینې مو په ښکاره ترې را وگرځوي. ښایي ځینې ملگري مو فکر وکړي چې تاسو لیوني شوي یئ او لویه تېروتنه کوئ. ښایي ځینې ملگري له لاسه ورکړئ. نه غواړم په دې اړه څه ولیکم، ځکه دا سخته ده؛ خو واقعیت دی.

پام مو وي چې دا په شبکه یي بازارموندنه پورې اړه نه لري، بلکې ستاسو د ژوند په تغییر پورې اړه لري. تاسو غواړئ چې له E او S کونجونو څخه B کونج ته ځان تغییر کړئ، یانې له تنخوا لرونکې دندې او ازاد کار څخه لوی تجارت ته ولاړ شئ. دا یوازې د دندې بدلول نه دي، بلکې د هېواد یا سیاسي گوند د بدلولو غوندې لوی کار دی.

شبکه یي بازارموندنه تاسو ته یوازې ښه تجارتي پوهه نه درکوي، بلکې نوي ملگري هم درکوي چې له تا سره پر یوه لوري روان دي او گډ ارزښتونه درسره لري.

انگریز شاعر جان ډون لیکي:«هېڅ انسان بشپړه جزیره نه ده، بلکې د لویې وچې یوه برخه ده او اصلاً یوه ټوټه ده.» ده دا خبره په (۱۶۲۳م) کې کړې؛ خو په نننۍ نړۍ او د اړیکو په نړۍ کې بېخي سمه او پر ځای ده. ځکه په یوازېتوب او گوشه نشینۍ کې شتمنېدای نشي. څومره مو چې له خلکو سره ناسته ولاړه، کار، مجلس او تفریح ډېرېږي، هومره به بریالي یئ.

جان: د ژوند په هره برخه کې دا منل شوی حقیقت دی؛ خو په شبکه یي بازارموندنه کې بېخي مناسب او ځانگړی دی، ځکه د شبکه یي بازارموندنې د تجارت په پیل کولو د نویو او تکړه ملگرو دایرې ته ننوزئ چې ستاسو په څېر ارزښتونه او د حقیقي کاروباري ژوند مهارتونه زده کوي.

د شبکه یي بازارموندنې د تجارت یوه بله گټه دا ده چې له داسې ملگرو سره نه یئ یو ځای شوي چې په ترفیع او پرمختگ کې له تاسو سره سیالي کوي، بلکې د داسې ملگرو دایرې ته ننوتي یئ چې ستا د پرمختگ لېواله دي. ځکه ستا بریا د دوی بریا ده. دا هم کېدای شي چې ځینې یې ستا ښه ملگري شي.

**دوام لري...**

# ستونزه دې حل کړه

اکسوس کتابپلورنځی

(ستونزه دې حل کړه) کتاب تازه پښتو ژبې ته ژباړل شوی دی. د کتاب لیکوال مشهور امریکایي ارواپوه برایان ټریسي دی. ټریسي نږدې ۵۰۰ کتابونه لیکلي چې له دې مخکې یې هم پښتو ته څو کتابونه ژباړل شوي دي.


دغه کتاب گلاب بهار پښتو ته ژباړلی، پښتو ښه یې ۹۲ مخونه لري چې بیاکتنه یې امان الله حنیفي کړې ده.

ستونزه د حل کړه کتاب پر لټۍ د برلاسۍ او په کم وخت کې د ډېر کار کولو ۲۱ غوره او اسانه لارې چارې درښیي. دا لارې او اصول له تاسې سره مرسته کولای شي، څو د لارو په بدلولو سره پر خپل وخت او ژوند کنټرول ترلاسه کړئ. یانې فکر کول، کار کول او له بېوزلۍ سره مبارزه کول هغه څه دي چې ستاسې ژوند بدلولای شي.

پر ژوند او وخت کنټرول ستاسو په کار او فعالیتونو پورې اړه لري، یانې څومره کارونه کولای شئ او د څومره کارونو د ترسره کولو مخنیوی کوئ. دغه کتاب درته وایي چې د ډېرو کارونو په ځای پر لږو هغو چې تاسې یې رښتیا ترلاسه کولای شئ، ډېر تمرکز وکړئ او خپل ژوند بدل کړئ.

د دغه کتاب تر ټولو ښه ځانگړنه دا ده چې پر لټۍ د برلاسۍ او په لږ وخت کې د ډېر کار کولو هره لاره او اصل د لیکوال او د لیکوال د سیمینارونو د گډونوالو پر تجربو ولاړ دی.

لیکوال وایي، ما له ۳۰ کلونو څخه ډېر وخت، د وخت مدیریت مطالعه کړی او ډېر وخت مې له هغو کسانو سره کار کړی چې په دې برخه کې متخصصین او ماهرین دي، لکه پیټر دراکر، الکس مکیکینزي، ایلن لایکسین او ځینې نور. همدارنگه مې د شخصي ورتیا او اغېزمنتوب په اړه سلگونه کتابونه او مقالې لوستې.




یوازې پر دې مې هم اکتفاه نه ده کړې، بلکې د خپلو سیمینارونو د گډونوالو له تجربو څخه مې هم گټه اخیستې چې دغه کتاب د دغو ټولو فعالیتونو پایله ده.

په دغه کتاب کې وړاندې شوي اصول او نظریات به ستاسې د پوهې او تجربې پر اساس ستاسې د کامیابۍ لامل شي. که چېرې دغه مېتودونه او تخنیکونه تاسې په خپل ژوند کې عملي او عادت وگرځوئ، نو په خپل ځان کې به مثبت بدلون احساس کړئ.

مینه وال کولای شي دغه کتاب په کابل کې له اکسوس او نورو لویو کتابپلورنځیو ترلاسه کړي.



| روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه | | | |
|---|---|---|---|
| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
| ۱ | حقیقت و آفرینش نظریه یی تکامل | محمد فتح الله گولن/صادق آینه پور | ۱۵۰ ؋ |
| ۲ | جهاد روح و حقیقت آن در اسلام | محمد فتح الله گولن/صادق آینه پور | ۱۵۰ ؋ |
| ۳ | مبانی مدیریت بحران | مهدی ابراهیمی نژاد رفسنجانی | ۱۷۰ ؋ |
| ٤ | زندگی پیامبر ما | یوسف قره گل/احمد حسینی مروی | ۱۰۰ ؋ |
| ۵ | نورجاویدان جلد اول و دوم | محمد فتح الله گولن | ٦۰۰ ؋ |
| ٦ | کسیر جاودانگی کوزه شکسته | محمد فتح الله گولن | ۱۸۰ ؋ |
| ۷ | هیگل روح رستاخیزی در اندیشه و عمل | محمد فتح الله گولن/سهراب عمر | ۲۰۰ ؋ |
| ۸ | درسایه ی ایمان جلد اول و دوم | محمد فتح الله گولن | ۳۰۰ ؋ |
| ۹ | جنبش گولن | هلن رز ایباف/فیروزه درشتی | ۲۰۰ ؋ |
| ۱۰ | تقدیر از دیدگاه قران و سنت | محمد فتح الله گولن | ۱۲۰ ؋ |
| ۱۱ | منشور جلد اول و دوم | محمد فتح الله گولن/سهراب | ۳۲۰؋ |
| ۱۲ | در محور ارشاد | محمد فتح الله گولن | ۱۳۰ ؋ |
| ۱۳ | اقتصاد پیژندنه | محمد داود نیازی | ۳۵۰ ؋ |
| ۱٤ | د نړیوالو معاهداتو حقوق | ډاکتر موسی زاده/فضل ولي شیرانی | ۲۵۰ ؋ |
| ۱۵ | د افغانستان د اوبو حقوق | برکت الله اریوبي | ۱۰۰ ؋ |
| ۱٦ | متحده ایالات او د نړۍ ستر قدرتونه | بوزن بیری/روح الله زهیر | ۳۰۰ ؋ |
| ۱۷ | ملي امنیت او نړیوال نظام | ډاکتر جلیل روشندل/احمد شاه ویاړ او عزت بدلون | ۲۷۰ ؋ |
| ۱۸ | ستراتیژیک‌مدیریت | فریډ آر ډیویډ/میراحمد یاد | ۲۷۰ ؋ |
| ۱۹ | کاروبار | محمد داود نیازی | ۲۲۰ ؋ |
| ۲۰ | د کار ستراتیژي | برایان ټریسی/لعل الدین عاطف | ۱۵۰ ؋ |
| ۲۱ | د مغزو کنټرول | فرشاد نجفی پور/لعل الدین عاطف | ۱۵۰ ؋ |
| ۲۲ | عامه تمویل | امان الله، محمد دواد نیازی | ۲۳۰ ؋ |
| ۲۳ | بریالی فکر | جان مکسویل/اسماعیل آشنا | ۲۵۰ ؋ |
| ۲٤ | د کاروبار اخلاق | انډریو گیلیر/میراحمد یاد | ۲۳۰ ؋ |
| ۲۵ | اصول مدیریت | علی رضائیان | ۲۵۰؋ |
| ۲٦ | مبانی سازمان و مدیریت | علی رضائیان | ۳۵۰ ؋ |
| ۲۷ | اقتصادشهری | نعمت الله اکبری | ۳۲۰ ؋ |
| ۲۸ | سیاست و حکومت خاورمیانه | حبیب الله ابوالحسن شیرازی، اسلان قربانی شیخ نشین، رضا سیمبر | ۲۰۰ ؋ |
| ۲۹ | مبانی مدیریت رفتار سازمانی | علی رضائیان | ۳۵۰ ؋ |
| ۳۰ | شبکه یي دولت | تیمور شاران/سمیع الله مجاهد | ۲۵۰ ؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ    اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۲۵ |
| € | ۸۵,۱۰ |
| Rp. | ٤٦٥ |
| ₹ | ۹۷۰ |
| ¥ | ۱۰,۸۰ |
| £ | ۹۳,۲۰ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالي زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# ایا موخې مو دې ته هڅوي چې هغه تعقیب کړی؟

ژباړه: امان الله «حنیفي»

«که په رښتیا هغه کار وکړی چې تاسې ورسره مینه لری، نور مو هڅولو او تشویقولو ته اړتیا نشته. ستاسې ذهني لرلید خپله تاسې هڅوي.» سټیو جابز

څومره به ښه وی که مو موخو ته د رسېدو د مینې اندازه اخیستې وی. ای کاش چې داسې کېدلی چې د خپل لاس نبنه مو یو ماشین ته ورکولی او هغه زموږ د بریا کچه معلومولی. خو واقعیت بیا بل څه دی. ایا د دې پوښتنې پوښتل چې «ایا موخې مې ما ته هغه انګېزه راکوي چې زه هغه تعقیب کړم؟» ستاسې لپاره سخت کار دی؟ له کومه ځایه پوهېږی چې موخو ته د رسېدو لپاره کاپي انګېزه لری؟

مینه لرل، امکان زېږوي

موخو ته د رسېدو لپاره له هغه سره مینه لرل یو ضروري عنصر دی. حتماً پوښتی چې ولې؟ ځکه مینه لرل د ټولو بریاوو پیل دی. ما هېڅکله داسې نه دي لیدلي چې یو څوک دې له مینې لرلو پرته خپلو غوښتنو ته رسېدلي وي. مینه لرل د انسان په وجود کې انرژي زېږوي، چې موخو ته د رسېدو امکان په لاس راکوي. کېدای شي چې وپوښتی، که همداسې وي، ولې مو دا پوښتنه په لومړي سر کې ونه پوښته؟ ځواب دا دی چې موخو ته د رسېدو لپاره یوازې د مینې لرل هم کاپي نه دي. مینه لرل له هغو لسو پوښتنو یوه ده چې باید مناسب ځواب ورکړی. یا په بله وینا، که نه شی کولای دې پوښتنې ته مثبت ځواب ورکړی، موخو ته د رسېدو انرژي مو مخکې له مخکې له لاسه ورکړې ده.

«مینه درلودل د هر هغه څا لپاره ضروري دي چې غواړي خپلو موخو ته ورسېږي. ولې؟ ځکه ټولو بریاوو ته د رسېدو لومړی پیل مینه درلودل دي.»

موخو ته د رسېدو هره لاره له ستونزو، مشکلاتو او ناامیدیو ډکه ده. له بده مرغه چې ډېری کسان له ځینو دې پوښتنو سره مخ کېږي او بالاخره یې هره موخه له لاسه وځي. پر همدې اساس، له خپلو موخو سره مینه درلودل ډېر مهم دي. له موخو سره مینه لرل تاسې ژوندي ساتي، مینه لرل تاسې ته انګېزه درکوي، همدا دلیل دی چې ډنمارکي فیلسوف کګارد وایي: «که داسې وي چې یوازې د یو څه لرلو یا ورته رسېدو هیله کوی، دا هیله لرل نه قدرت دی نه ثروت. زما موخه دا ده چې وشم کولای د مینې په درلودو سره خپلې وړتیاوې لاس ته راوړم. یوازې خوند اخیستل د ناامیدۍ باعث کېږي، خو حقیقي مینه هېڅکله د ناامیدۍ پایله نه ورکوي.»

د مینې درلودو قدرت

مینه درلودل څه دي؟ مینه لرل په زړه کې هغه انرژي او خواخوږي لرل دي، چې نه یوازې همدا اوس تاسې خپلو موخو ته د رسېدو لپاره پر حرکت راولي، بلکې په راتلونکې کې مو هم همدا حرکت جاري ساتي. مینه درلول ستاسې لپاره د موخو تعقیبولو فرصت برابروي. د ویل هابز په خبره، مینه درلودل هغه حرکت دی چې تاسې سهار وختي د خوب له کټه راپاڅوي. ځکه هغه کار باید وکړی چې تاسې ورسره مینه لری، هغه کار مو په مخکې دی چې تاسې پرې باور لری، هغه کار مو په مخکې دی چې تاسې یې په سرته رسولو کې ښه مهارت لری، هغه کار مو په مخکې دی چې نه ترې تېربدلی شی او نه یې هم بلې ورځې ته ځنډولی شی.

مینه درلودل موږ ته له ستونزو سره د مبارزې کولو زمینه برابروي. هرکله چې د یو ارزښتمن کار د سر ته رسولو هڅه کوی، حتماً له ستونزو سره مخ کېږی. مینه درلودل له تاسې سره مرسته کوي، څو دا هرڅه په سړه سینه وزغمی. د ۲۰۰۷ ز کال په جولای کې مې د جنوبي افریقا په پلازمېنه ژوهاسنبورک کې وینا کوله، که څه هم دا سفر راته ډېر اوږد او ستړی کوونکی و، خو بیا هم په هغه کې برخې اخیستو راته ډېره ګټه وکړه. یوه ورځ مې د هماغه پروګرام له برابروونکي سره د خبرو کولو فرصت پیدا کړ. تالیتابویي د دغه شرکت رییس و چې دا پروګرام یې جوړ کړی و. له هغه سره د خبرو کولو پر مهال یې څو څو ځلې راته وویل، چې د دغه پروګرام جوړول یې یوه لویه هیله وه چې پوره شوه. کله مې چې له هغه په دې اړه د یو څه وضاحت پوښتنه وکړه، هغه وویل، تېر کال یې په ذهن کې راوګرځېده چې د رهبرۍ په اړه یو نړیوال پروګرام جوړ کړي.

هغه وویل: «په ۲۰۰٦ ز کال کې مې تصمیم ونیو چې ټول کال به کار کوم، داسې چې نه یوازې خپل ځان ته کار وکړم؛ بلکې دا نورو هېوادوالو ته هم یو لوی کار وي. خو دې لویوالي ما ته کوم مفهوم درلود؟ زما لویوالی د غیرممکنه او ریسک لرونکي کار تر سره کول وو. ډاکتر مکسوله! په ۲۰۰۷ ز کال کې ژوهانسبورک ته ستا رابلل مې لویه هیله وه او کلکه ژمنه مې کړې وه چې په هر ډول وي، زه به دا کار کوم».

وروسته یې وویل چې د دغه پروګرام د جوړولو لپاره یې ډېرې ستونزې وګاللې. هغه چې د خپل شریک له مخالفت سره مخ شوی و، هغه ته یې ویلي وو چې که چېرې یې شرکت تاوان وکړ، ټول به ته پرې کوې. کله چې د شرکت مالي بورډ د دې پروګرام په جوړولو کې له همکارۍ را نه په شا شو، بیا هم ناامیده نه شوم. هغه وایي، د دې پروګرام د جوړولو مینې د ډېرو ستونزو په زغملو کې راسره مرسته وکړه.

تالیتا وویل: «ډېری د دې پروګرام له جوړولو مخکې ښه پوهېدل چې د دغه پروګرام جوړول زما لپاره څومره مهم او مانا لرونکي دي؛ خو بیا هم له دې سره سره باوري نه وو چې دا به زما او زما د شرکت لپاره څومره ګټور وي. د پروګرام په پای کې ډېری ګډونوالو ویلي وو چې کاش په دې پروګرام کې یې د دوی ملګرو، دوستانو او همکارانو ته هم د ګډون بلنه ورکړې وی. ډېریو غوښتل چې دا پروګرام یوه بله ورځ هم وغځېږي، ډېریو هیله درلوده چې په نږدې راتلونکې کې د وشي کولای چې په یو بل داسې پروګرام کې هم ګډون وکړي. ډېریو ګډونوالو دا پروګرام ډېر عالي بللی و. دا سفر ډېر اوږد و، خو هغه ګټه چې د دې سفر په پای کې ټولو کړې وه، بېخي له حد او اندازې وتلې وه. دا زما موخه وه چې پر حقیقت بدله شوه.»

د یوې موخې تر ټولو ښه انګېزه ورکوونکې برخه د هغه پیل دی. موږ ټولو یوه موخه او بیا له هغه سره لېونۍ مینه لرل تجربه کړې دي. امکانات مو سنجولي، له هغه سره کلکه مینه لرل مو حس کړې، یو نامعلوم راتلونکی مو په ذهن کې تصور کړی، تر دې چې زموږ د ښه حالت په اړه مو د دوستانو او ملګرو تایید اورېدلی او له دې وروسته لاس پکار شوي یو او ډېر ژر دې پایلې ته رسېدلي یو چې د یوې موخې له ټاکلو هغې ته تر رسېدو لپاره باید ډېرې هڅې وکړو. هماغسې لکه چې یو مور او پلار پوهېږي چې دنیا ته د یو ماشوم تر راوړلو، د هغه لویول ډېر سخت دي. هغه کوم عوامل دي چې تاسې یې باید له امله ستونزې وګالی؟ هغه کوم عوامل دي چې تاسې ته پر ستونزو د برلاسي کېدو چانس برابروي؟ ځواب دا دی: مینه درلودل! ویلیام آرتور وارد موخو ته د رسېدو لپاره درته داسې سپارښتنه کوي: «پر هغه وضعیت چې نور په کې وېره او شک لري، باور وکړئ. په هغه وضعیت کې چې نور کار پرېږدي، پلان جوړ کړئ. په هغه وضعیت کې چې نور خوب کوي، تاسې مطالعه وکړئ. په هغه وضعیت کې چې نور زړه نا زړه وي، تاسې تصمیم ونیسئ. هغه څه چې نور یې په اړه خیال پلو وهي، تاسې یې درک کړئ. هغه وخت چې نور یو کار سبا ته پرېږدي، تاسې یې پیل کړئ. هغه وخت چې نور یوازې هیله کوي، تاسې عمل وکړئ. هغه وخت چې نور زیات لګښت کوي، تاسې سپما وکړئ. کله چې نور خبرې کوي، تاسې یې واورئ. هغه وخت چې نور ګیلې کوي، تاسې موسکا وکړئ. هغه وخت چې نور نیوکه کوي، تاسې خپل رضایت ښکاره کړئ او هغه وخت چې نور کار پرېږدي، تاسې پرله پسې کار وکړئ. هغه څه چې تاسې ته انرژي او باور درکوي، په خپل پلان کې یې ونیسئ، مطالعه یې کړئ، په اړه یې تصمیم ونیسئ، ښه یې و ارزوئ، د سر ته رسولو لپاره یې متې بډ وهئ، کار وکړئ، سپما وکړئ، غوږ ونیسئ، موسکا وکړئ او له پرله پسې کار کولو د رضایت ښودنه څه ده؟

ځواب: دا ټوله مینه ده!!

## بولټن: ټرمپ باوري و چې امریکا په افغانستان کې جګړه بایللې ده

د امریکا د ملي امنیت شورا پخواني سلاکار جان بولټن په خپل کتاب کې د ډونالډ ټرمپ له لوري په افغانستان کې له روسیې سره د داعش ډلې پر وړاندې مبارزه کې له نړدېوالي پرده پورته کړې ده.

نوموړي د خپل کتاب په یوه برخه کې د ولسمشر ټرمپ له قوله لیکلي، چې ټرمپ پر دې باور و چې امریکا په افغانستان کې ماتې خوړلې او پرېږدئ چې روسیه د داعش ستونزې ته رسېدنه وکړي.

د امریکا د ملي امنیت د پخواني سلاکار جان بولټن د جنجالي کتاب په یوې بلې برخه کې، په افغانستان کې روانه جګړه د ډونالډ ټرمپ له لیده یوه بشپړه ناکامي بلل شوې ده.

د دغه کتاب په یوې برخه کې راغلي چې ولسمشر ټرمپ د نومبر په اتمه په سپینه ماڼۍ کې په یوې ناسته کې په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو شتون یوه ناسمه او له شرمه ډکه ستراتېژي وبلله.

د هغه په خبره، ټرمپ په دې ناسته کې وویل: «په افغانستان کې زموږ شتون د وحشت ننداره ده. باید راووځو. د جورج بوش په نامه یوه احمق انسان دغه کار کړی دی. متیس وویل، داعش هم په افغانستان کې شته، خو ټرمپ وویل، پرېږدئ چې روسیه یې غم وخوري.»

په همدې حال کې د بارنټ روبین په نوم یوه امریکایي کارپوه ویلي چې افغانستان د ټرمپ لپاره هېڅ اهمیت نه لري او هغه یوازې د دویم ځل لپاره په ټاکنو کې د بریا هڅې کوي.

روبین په دې اړه زیاته کړه: «تر ټولو مهمه مسئله دا ده چې ولسمشر ټرمپ د افغانستان په اړه پر هېڅ څه نه پوهېږي. دغه هېواد ورته مهم نه دی. هغه یوازې غواړي له افغانستانه ووځي. هغه غواړي امریکا په داسې ډول له افغانستانه ووځي چې په ټاکنو کې د بیا ټاکل کېدو لپاره ورته ښه وي، نور هېڅ څه ورته مهم نه دي. هغه له خپل سیاسته ملاتړ ونه کړ. هغه د سولې هوکړې ته ارزښت نه ورکوي. هغه بې حوصلې دی. هغه غوښتل طالبان ډیوېډ کمپ ته د دې لپاره راولي چې یوه ټلوېزیوني ننداره جوړه کړي او دا وښیي چې هغه یو لوی سوله غوښتونکی دی.»

جان بولټن لیکلي، هغه داسې انګېرله چې زلمی خلیلزاد به له طالبانو سره د خبرو پر مهال یادې ډلې ته ډېر امتیاز ورکړي، خو په دې کتاب کې ترمپ له خلیلزاده د یوه دوکه کوونکي په توګه یادونه کړې او ویلي یې دي چې له طالبانو سره د سولې لپاره دغسې یوه کس ته اړتیا ده.

## عامې روغتیا وزارت: په هېواد کې د کرونا ویروس مثبت پېښې منځنۍ کچې ته رسېدلې دي

عامې روغتیا وزارت وایي، په هېواد کې د کرونا ویروس د مثبتو پېښو د ثبت لړۍ منځنیحالت ته رسېدلې ده.

د دغه وزارت مرستیال وایي، د کرونا ویروس د پېښو ثبت د تېرو اونیو په پرتله کم شوی دی. د دغه وزارت د معلوماتو پر بنسټ، هغه سمپلونه به چې په روژې میاشت او د کوچني اختر په اونیو کې اخیستل کېدل، له ۵۰ سلنو څخه زیاد بهیې مثبت وو، خو دغه شمېر اوس په مراتبو راکم شوی دی.

عامې روغتیا وزارت وایي، د درې شاخصونو پر بنسټ، لکه د سمپلونو د ټسټ او په روغتونو کې د (کوویډ-۱۹) ناروغانو د بستر کېدو شمېر، دغه شان هغه کسان چې د دغه ویروس علایم لري، خو روغتونونو ته کمه مراجعه کوي، دغه راز دا ویروس اوس منځنی حالت غوره کړی دی.

د عامې روغتیا وزارت مالي او اداري مرستیال شفیق‌الله شهیم پرون په کابل کې د یوې خبري ناستې پر مهال وویل: «هغه مقایسه چې موږ کړې، د کرونا ویروس پېښې د روژې او اختر په اونیو کې زیاتې وې، خو دغه لړۍ اوس په منځنی حال کې ده. موږ هیله مند یو چې دغه لړۍ همداسې روانه وي او په راتلونکو اونیو کې بېخي کم شمېر ته ورسېږي. هغه شمېر چې اوس یې موږ په ورځني ډول ترلاسه کوو، هیله ښونکی دی.»

په ورته وخت کې د عامې روغتیا وزارت ویاند اکمل سمسور چې په همدې خبري ناسته کې ګډون درلود، ویلي چې که خلک روغتیایي سپارښتنې جدي ونه نیسي، ښایي د مثبتو پېښو شمېر بیا ځلې ډېر شي.

هغه زیاته کړې: «که موږ احتیاط وکړو او د عامې روغتیا وزارت سپارښتنې جدي وګڼو، ممکن ښه لور ته روان شو او پېښې به هم کمې شي، که خلک احتیاط ونه کړي، نو د دې شاهدان به هم واوسو چې پېښې بیا زیاتې شي.»

دا په داسې حال کې ده چې په تېرو ۲۴ ساعتونو کې په ټول افغانستان کې د کرونا ۳۲۴ مثبتې پېښې ثبت شوې چې له ډلې یې ۲۰ کسه مړه شوي دي، خو په همدې موده کې بیا ۴۱۹ کسان بېرته روغ شوي دي.

مسیر ورځپاڼه

مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.
WAYGAL PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ !
STAY HOME
STAY SAFE
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د چنګاښ خلورمه | د ۲۰۲۰ د جون ۲۴مه | ۵۵٦مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳۵ | ۲۹ |
| ۱۳ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۷ | لمر ختل ۰٤:٤۲ | ماسپښین ۱۱:۵۷ | مازیګر ۰۳:٤۳ | ماښام ۰۷:۱۱ | ماخوستن ۰۸:۵٦

## نړۍ



## ماکرون: په لیبیا کې د ترکیې روان ګواښوونکی رول فرانسې ته د منلو نه دی

۳

## د روغتیا نړیوال سازمان: ټولو انسانانو ته د کرونا ویروس ضد واکسین رسول به ډېر وخت ونیسي




په داسې حال کې په نړۍ ې د کرونا ویروس په چټکۍ سره د پراختیا په حال کې دی، د روغتیا نړیوال سازمان وایي، چې د دغه ویروس پر وړاندې به د نړۍ د نیمو انسانانو واکسین دوه نیم کاله وخت ونیسي. که څه هم د دغه ویروس پر ضد تر اوسه هېڅ واکسین نه دی جوړ شوی، خو د واکسین جوړولو په اړه یې چټکې هڅې روانې دي.
د روغتیا نړیوال سازمان دغه راز د کورونا ویروس پر ضد د مبارزې لپاره د ټولې نړۍ د یو موټي کېدو غوښتنه کړې ده، خو دغه سازمان وایي، ډېر وخت به ونیسي چې واکسین ټولو ته ورسېږي. کرونا ویروس ته د رسېدو په چارو کې د دغه سازمان ځانګړې استازي ډېوېډ نبارو په ژنیو ښار کې په یوه وېډیویي کنفرانس کې ویلي چې د ده پر باور، ټولو نړیوالو ته د واکسین رسول دوه نیم کاله وخت نیسي.
نبارو ویلي: «د کرونا ویروس واکسین ته به په ټوله نړۍ کې د لاسرسي لپاره دوه نیم کاله وخت ته اړتیا وي، خو هیله لرم زه ناسم ثابت شم او واکسین تر دې مخکې ټولو ته ورسېږي، خو فکر کوم تر ټولو ښه فرضیه همدا ده چې ډېر وخت به ونیسي، تر ټولو ژر موده به دوه نیم کاله وي.» دا په داسې حال کې ده چې د تازه شمېرو له مخې، په ټوله نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ۹.۲۷ میلیونو ته رسېدلې دي. دغه راز د یادو ویروس له کبله تر دې دمه ۴۷٦ زره او ۵۲۸ کسان مړه شوي او پنځه میلیونه ښېرته رغېدلي دي.

## ظریف: تیار یو چې د ویشتل شوې اوکرایني الوتکې توره بکسه فرانسې ته وسپارو

ایران وایي چې په راتلونکو څو ورځو کې به د هغې الوتکې توره بکسه د څېړنو لپاره فرانسې ته ولېږي، چې د روان کال په پیل کې تهران ته نږدې د دغه هېواد د ځواکونو له لوري سهواً ویشتل شوې وه.
تهران دغه راز د دې پېښې د قربانیانو کورنیو ته د تاوان د ورکولو د مسئلې د حل لپاره هم چمتووالی ښودلیدی. د ایران د بهرنیو چارو وزیر محمد جواد ظریف له خپل کاناډایي سیال فرانسوا فلیپ سره په ټېلیفوني خبرو کې ویلي چې تهران، د څېړنو لپاره فرانسې ته د اوکرایني الوتکې د تورې بکسې بې ځنډه استولو ته ژمن دی.
دا په داسې حال کې ده چې د اوکراین د هوایي شرکت بویینګ ۷۵۲ الوتکه د روان کال د جنوري په اتمه هغه مهال د ایران د هوایي ځواک له خوا په نښه شوه، چې د تهران له هوایي ډګر څخه کییف ته روانه شوې وه.
په دغه پېښه کې د الوتکې ټول ۱۷٦ مسافر ووژل شول. تهران له دې پېښې وروسته ومنله چې پوځ یې دا الوتکه سهواً ویشتلې ده. د یادونې ده چې دا پېښه څو ورځې وروسته له هغې وشوه چې د ایران د سپاه پاسداران د قدس ځواک قوماندان قاسم سلیماني په عراق کې د امریکا د پوځ په هوایي برید کې ووژل شو.


## دیده‌بان شفافیت: وزارت مالیه در سال های اخیر به یک نهاد سیاست‌زده مبدل شده است



دیده‌بان شفافیت افغانستان انتقاد می کند که عملی نشدن روند اصلاحات در وزارت مالیه درسال‌های اخیر، زمینه دست برد بر درآمدهای ملی را در این وزارت فراهم ساخته‌اند. این نهاد می گوید که وزارت مالیه به یک نهاد سیاست‌زده مبدل شده است. از سویی هم شماری از اعضای ولسی جرگه می‌گویند که تغییر وتبدیل افراد در وزارت مالیه و آنهم در زمان کم همواره زمینه‌ساز فساد دراین وزارت بوده‌اند. دیده‌بان شفافیت می‌گوید علت اینکه اصلاحات در وزارت مالیه عملی نمی‌شوند این نهاد یک منبع درآمدزا برای نخبه‌های مطرح سیاسی درکشور شناخته میشود. مسؤولان این نهاد می‌گویند که در دو دهه اخیر بیشترین تقرری‌ها در وزارت مالیه شفاف نبوده‌اند. محمد اکرام افضلی، رئیس دیدبان شفافیت افغانستان در این باره چنین اظهار داشت: «طی دو دهه گذشته وزارت مالیه بیشتربه حیث یک منبع عایداتی مطرح بوده است این وزارت بیشترسیاست زده شده است.» هرچند وزارت مالیه می گوید که این وزارت توانسته است اصلاحاتی را در بخش‌های این وزارت بوجود آرد اما اعضای ولسی جرگه می گویند که گزینش افراد دراین وزارت معمولا بدست معینان ورهبری این وزارت بوده است واین خود زمینه را برای فساد فراهم میسازد. عظیم محسنی عضو این جرگه گفت: «همیشه معینان گمرک‌ها که تقرر حاصل میکنند به میل خود افراد مامورین را می‌گمارند، دراینجا هیچ یک سیستم شفاف وجود ندارد.» در عین حال عبدالقادر جیلانی، سخن‌گوی پیشین وزارت مالیه گفت: «ممنوع الخروجی شصت وهشت کارمند بلند پایه وزارت مالیه شک‌های را مبنی برفساد گسترده در وزارت مالیه را بوجود آورده است که اینکار برای نظام مالی کشور بسیار خطرناک است.»

## ژوند

## ایا کله کله مو سر ګرځي؟



کله مو داسې احساس کړی چې ګواکې ځمکه در باندې تاو شوه، سر مو وګرځېد او په سترګو مو تیاره راشي؟ د دې ستونزې لاملونه څه دي؟ ایا دا ناروغي ګواښوونکې ده که عادي؟ څنګه د ناڅاپي سر ګرځېدلو درملنه وشي او کله له ډاکټر سره مشوره وشي؟ سر ګرځېدل د اضطراب یا د توازن او راحت خرابوالي احساس دی، چې په حسي غړو اغیز کوي، په ځانګړې توګه په سترګو او غوږونو، خو ځینې وخت د بې هوښۍ لامل هم کیدای شي. دا ناروغي نه ده، بلکې د یو ډول اضطراب او ژور خپګان نښه ده. د وینې فشار ناڅاپي کمېدل، د زړه عضلاتو ناروغي، د وینې حجم کموالی، د اوسپنې کمښت، د شکر کچې ټیټوالی، د غوږ انتان، وچوالی یا ډي هایډریشن، لمر وهنه او په تمرین کې افراط. په عام حالت کې ناڅاپي سر ګرځېدل په خپله له منځه ځي، خو ځینې شیان شته چې په مرسته یې کولی شی ارام شی. سوکه سوکه پاڅیږئ، په احتیاط او ارام سره حرکت وکړئ، اوبه او نور مایعات زیات وڅښئ، د کافي، سګریټ، الکولو او نشه یي توکه څخه ځانونه وژغورئ. که چیرته د پرله پسې سر ګرځېدو له ستونزې کړېږی، نو له ډاکټر سره اړیکه ونیسئ.

ماسټر ډېبټ کارت
د عزیزي بانک ماسټر ډېبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.
• په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
• د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو څخه اخیستلی شئ.

www.azizibank.af
1515
عزیزي بانک
Azizi Bank